مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۴/۱۴

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
### (دوه دیرشمه برخه)

## محمد عمر غوثي

له لوګر ځخه د جنرال غوث الدین زوی په ۱۸۹۹ز کال کې په میمني کې زیږیدلی دئ؛ ‌جنرال غوث الدین په پنجدِه کې د روسانو پر وړاندې جګړه کړې ده. په اسلامي مطالعاتو کې ئې خصوصي زده کړې تر سره کړي دي. د روزګان او اورګون حاکم. له لوګر ځخه لومړی د لوګر د خلکو استازی او وروسته په مشرانو جرګې کې سناتور سو. د معارف په وزارت کې د آرشیف د دیپارتمنت مشر. له ۱۹۵۰ تر ۱۹۵۸ز کال پورې د معارف او د کانونو او صنایعو په وزراتونو کې اداري مدیر. په صدارت عظمی کې د ملکي خدماتو د لومړی محکې رئیس. د اولادونو نومونه : عارف محمد، محمد شعیب، ډاکټر عبدالغني، عزیز، نعمت، رحمت، حشمت او سیما. اوس په کابل کې ژوند کوي.

## ډاکټر محمد شعیب غوثي

د محمد عمر غوثي زوی په ۱۹۳۱ز کال کې په کابل کې زیږیدلی دئ. د حبیبیې له لیسې ځخه فارغ او د برکلي د کالیفورنیا له پوهنتون ځخه ئې خپل لیسانس اوخپله ماستري او دکتورا ئې په برقي انجنیري یا الکتریکل انجنیرینګ کې واخیستله. له ۱۹۵۹ تر ۱۹۷۰ز کال پورې د نیویورک په پوهنتون کې د الکتریکل انجنیرینګ پوهاند/پروفیسر. په ۱۹۷۴ز کال کې په میشیګن کې د ”وین“[1] د پوهنتون د انجنیري د پوهنځي رئیس. په ۱۹۷۶ز کال کې د ‌انجنیری د نړی والي ټولني‌[2] رئیس. په ‌دیفس [3] کې د کالیفورنیا د پوهنتون د انجنیری د پوهنځي رئیس. د ګڼ شمیر آثارو مؤلف. مورنی ژبه ئې دري ده.

## نعمت غوثي

د محمد عمر غوثي زوی په ۱۹۴۱ز کال کې په لوګر کې زیږیدلی دئ. د حبیبیې له لیسې ځخه له فارغیدلو وروسته لبنان ته لاړ چې هلته د بیروت په امریکایي پوهنتون کې تحصیل وکړي. بیا د امریکا متحده ایالاتو ته لاړ او دلته ئې د نیویورک له پوهنتون ځخه په ۱۹۶۷ز کال کې خپل لیسانس په انجنیری کې او ماستري ئې په ۱۹۶۸ز کال

[1] -Wayne
[2] -International Engineering Association
[3] - Davis


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ

کي ترلاسه کړه. په Avco/Ct او IBM کي ئـي کار پيل کړ. له ۱۹۷۸ز کال راهيسي د «د کان په پورټلند کي د مولتي بيزنس کمپيوتر انک» [4]مدير او څښتن. وادۀ ئـي کړى او دوه زامن او يوه لور لري.

## ډاکټر رحمت غوثي

د محمد غوثي زوى په ۱۹۴۷ز کال کي په کابل کي زېږېـدلى دئ. په ۱۹۶۴ز کال کي د غازي له ليسي او له يوې امريکايي ليسي څخه فارغ سوى دئ. په دې پسي جرمني ته تللى او د طب د فراغت سند يا .M.D ئـي په ۱۹۷۵ز کال کي د «فري يونيورسيټي آف برلين» [5] څخه تر لاسه کړى دئ. په ۱۹۷۶ز کال کي د امريکا متحده اياﻻتو ته ﻻړ او د کاليفورنيا په «تاوزند اوکس» [6] کي د جراح په توګه کار کوي.

## سعد الدين غوثي

د لوګر د جنرال غوث الدين زوى په ۱۸۹۰ز کال کي په کابل کي زېږېـدلى دئ. سعدالدين غوثي د امير حبيب الله له لور فرخ تاج سره وادۀ کړى دئ. د کابل د پوليسو او ژاندارمي بولندوى. د «پيپرنو له اړيکو» [7] وروسته د ايتاليا د دولت د غوښتـني پر بنسټ برطرفه سو. تر ۱۹۲۹ز کال پوري د سلطنتي کورنى د چارو مشر. د ټولګټو/ فوايد عامي په وزارت کي عمومي مدير. له لومړۍ مېـرمني فرخ تاج څخه ئـي يو زوى او پينځـۀ لوڼي درلودې. زومان ئـي په دغو نومونو دي : عبدالحکيم ضيائـي. عبدالله يفتلي. بشير نور او سيف قتيل ضيائـي. بشير نور په ۱۹۸۰ز کال کي ووژل سو.

## ډاکټر سعدالله غوثي

«د جنرال غوث الدين د زوى» سعدالدين زوى په ۱۹۳۳ز کال کي په کابل کي زېږېـدلى دئ. په ۱۹۵۲ز کال کي د استقلال له ليسي څخه فارغ سو. په ۱۹۵۵ز کال کي د ژنوا له پوهنتون څخه ئـي خپل ليسانس په سياسي علومو کي ترلاسه کړ او خپله دکتورا ئـي د سوربون له پوهنتون څخه تر لاسه کړه. په ۱۹۵۹ز کال کي د باندنيو چارو په وزارت کي شامل سو؛ او له ۱۹۶۰ تر ۱۹۶۳ز کال پورې ئـي د سيمه ييزو چارو د افسر يا ديسک آفسير په توګه کار وکړ. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۷۰ز کال پورې د سياسي چارو مدير وو. له ۱۹۷۰ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د پروټوکول مشر وو. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۶ز کال پورې سلاکار. له ۱۹۷۶ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د توکيو لپاره سفير مختار. په ۱۹۶۷، ۱۹۶۹ او ۱۹۷۳ز کلونو کي د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلو په غونډو کي د افغان پلاوي غړى. له ۱۹۶۰ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د کابل پوهنتون مدرس. له ۱۹۷۸ز کال راهيسي د توکيو د صوفيا د پوهنتون مېـلمـه پوهاند؛ له ۱۹۸۴ز کال راهيسي تصدي ئـي اخيستي ده. «د جنرال نذير کبير سراج له مشرې لور» بېـنـظـيرې سره ئـي وادۀ کړى دئ او درې زامن لري. د برتانيې، فرانسې، جرمني او جاپان مډالونه لري.

---

[4] - Multi Business Computer ,Inc, Portland, Conn

[5] - Free University of Berlin

[6] - Thousand Oaks, California

[7] - Piperno Affairs : ليکوال نـۀ ده روښانه کړې چي دا کومي اړيکي وې چي د ايتاليا د دولت د غوښتني له مخي دې يو افغان رسمي مقام معزول سي- ژ



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

## غوث الدين

د غلام محي الدين زوی په ۱۹۱۱ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. (غلام محي الدين د کابل د لرغونتون /موزيم مشر چې هنرمند هم دئ). غوث الدين د کابل د «صنايعو» د ليسې له لومړنيو زده کوونکو څخه وو چې په ۱۹۳۲ز کال کې ورڅخه فارغ سو. له ۱۹۳۳ تر ۱۹۳۸ز کال پورې د کابل د ښکليوهنرونو د ښوونځي ښوونکی. له ۱۹۳۸ تر ۱۹۴۰ز کال پورې د کابل د لرغونتون د مشر (د خپل پلار) مرستيال. په ۱۹۴۰ز کال کې يو ځل بيا د ښکليو هنرونو د ښوونځي ښوونکی او بيا د همدغهٔ ښوونځي مدير. د معارف د تياتر ښنسټ ايښودونکی. د دري کالو لپاره په کندهار کې د ميرويس په ښوونځي کې د نقاش او ښوونکي په توګه او ورپسې ئې د دري کالو لپاره د پُست/ ډاګ او مخابراتو د وزارت لپاره کار وکړ. د شپږو کالو لپاره په سلطنتي ماڼۍ کې د نقاش په توګه. يو ځل بيا تر ۱۹۷۰ز کال پورې د ښکليو هنرونو په ښوونځي کې د ښوونکي په توګه او په همدې کال ئې تقاعد وکړ. په دې پسې ئې شخصي ښوونځي پرانيست او هم ئې د څلورو کالو لپاره د کابل پوهنتون د ښکليو هنرونو په پوهنځي کې تدريس وکړ. د برشنا د نقاشۍ د «نيو- رياليست» [8] د سبک پيرو وو. غوث الدين ۴۸ کلن هنرياڼ ژوند تـېـر کړ چې په دې هنر کې نقاشي، موسيقي او مجسمه سازي شامل ول. غوث الدين يو له لومړنيو افغان هنريالانو څخه وو چې خپل آثار ئې له هېـواده دباندې ننداري ته کښېـښودل ؛ په ۱۹۵۶ز کال کې ئې د مصر په قاهرې کې ئې په آسيايي - افريقايي ننداړتون کې ګډون وکړ او همدلته ئې لومړۍ جايزه وګټله. په ۱۹۸۲ز کال کې د هنرمندانو د اتحاديي رئيس. د ۱۹۸۵ز کال د اپريل په مياشت کې پاکستان ته وتښـتېـد.

**غوثي** : وګورئ : غوثي

## محـمد علم غواص

د هرات د «امامِ جمعه» [9] زوی په ۱۹۱۱ز کال کې په هرات کې زېږېدلی دئ. د هرات د ادبي ډلي مرستيال رئيس. د قطغن د اطلاعاتو او کلتور مأمور. د راډيو افغانستان مرستيال رئيس. په ۱۹۵۰ز کال کې د اصلاح محرر. په ۱۹۵۶ز کال کې د هرات د اطلاعاتو او کلتور د څانګې مدير. اسلامي عالم او د دري ژبي شاعر. له ۱۹۷۴زکال راهيسي متقاعد. مورنۍ ژبه ئې دري ده.

## ډاکټر ميرجان غيور

د عامې روغتيا د وزارت، د وقايوي طب د څانګې رئيس. د څلورمي څانګې سکرتر. د ۱۹۷۹ز کال د سپتمبر په مياشت کې د عامې روغتيا د وزارت دوهم مرستيال وزير.

## ډاکټر سيد الف شاه غضنفر

د روغتون مرستيال يا معاون چې د ليسې د دورې ډيپلوم ئې د شپې د ښوونځي له لارې تر لاسه کړ. له ۱۹۵۴ تر ۱۹۶۰ز کال پورې ئې په لبنان کې د طب په ډګر کې تحصيلات وکړل؛ د طب د ډاکټرۍ سند M.D. ئې تر لاسه کړ.

---

[8] -Neo-realist

[9] -Immam Jom'a of Herat



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولـئ

د کابل پوهنتون د طب د پوهنځي پوهنمل. د کابل پوهنتون د څېړنو د مرکز رسمي مأمور. په کابل کې د «پاستور»[10] د انستیتیوت په اخیستلو کې ګټور واقع سو. د روغتیا په وزارت کې د روغتیا رئیس. د کابل پوهنتون د طب د پوهنځي رئیس. د امریکا په متحده ایالاتو کې ژوند کوي.

## نور بیا

### ډاکتر محمد ظاهر علم غازي

د عبدالکریم خان زوی په ۱۹۳۶ز کال کې په لوګر کې زېږېدلی...

قدرمنو لوستونکو! د ښاغلي رحمت آریا د آرشیف: لینک

10 - Pasteur Institute


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ